# پښتو فولکلور او د ماشومانو ادبيات

# Pashto Folklore and Children's Literature

Dr. Abdul Zahir Shakeeb [1]

**ABSTRACT:**

*Folk literature is the oral type of literature in which the source of a literary work is not known and considered as the shared work of people in a society such as folk songs for children (poems, melodies, stories, tales, riddles, jokes and etc.). They are used among the children or sung by elders to them for great entertainment. Written literature is the versified and prose form of writings sung or written by the known authors and poets for the children to make them entertained and encouraged through reading and listening of them, enhance their competence and improve their information.*

*Songs and melodies make children to get familiar with rhythm and music. Rhythmic speech and songs affect children's psyche, for first time a child learns that how to enjoy the poems and verses. These rhythmic speech and songs give peace and tranquility to the human soul so through them children get comfort. There are two types of literature in each language (1) folkloric literature and (2) written literature. In this article, I will study the children's literature in Pashto folkloric literature because children folk songs' structures are neither similar to common songs nor like the rhetoric songs which have a specific structure. In written form they are used in irregular way but when children sing them, they find the proper syllables to make these songs rhythmic. In Pashto folkloric literature, the number of syllables in folk songs in children literature is not high but only has limited syllables because children cannot produce lengthy syllables.*

**۱- لنډيز:**

ولسي يا شفاهي ادبيات هغه دي، چې معلوم وينا وال نه لري، دټولنې او خلکو ګډ مال ګڼل کيږي، لکه دماشومانو له پاره فولکلوري سندرې( شعرونه – ترانې) کيسې، نکلونه، دوړې(اړونه او چستانونه)، ټوکې ټکالې او نور، چې ماشومان يې په خپل منځ کې وايي او ياپې لويان دوی ته د غوره بوختيا له پاره وايي. ليکلي ادبيات بيا هغه منظومې او منثورې ليکنې دي، چې په ټولنه کې معلومو ليکوالو او شاعرانو دماشومانو له پاره ويلي او ليکلي وي، چې له اوريدلو او لوستلو يې پند او خوند واخلي، دپوهې کچه يې لوړه او خپله معلوماتي پانګه پرې زياته او شتمنه کړي.

[1] Professor, Academy of Sciences, Kabul, Afghanistan

ترانې او سندرې دماشومانو ذهن له وزن، اهنګ او موسیقي سره اشنا کوي او د لومړي ځل له پاره يو ماشوم دا زده کوي، چې څنګه له موزونو جملو او بيتونو خوند واخلي او څرنګه، چې موزونه وينا او سندرې د انسان روح ته ارامتيا وربخښي، کولی شي ماشوم هم ارامه وساتي.

د هرې ژبې ادبيات دوه ډوله وي چې يو يې ولسي يا فلکلوري ادبيات او بل يې ليکلي او ديواني ادبيات دي ، چې موږ په خپله دې مقاله کې د پښتو ژبې د فلکلوريکو ادبياتو په چوکاټ کې د ماشوم پر ادبياتو بحث او څېړنه وکړو ، دا ځکه چې د کوچنيانو د فولکلوريکو سندرو شکل او فورم نه عامو ولسي سندرو ته ورته دي او نه هم د بديعي شعرونو سره اړخ لګوي، بلکې ځانته ځانګړی فورم لري، چې په ليکنه کې يې شمېر تل کډوډ وي، خو په ويلو کې دکوچنيانو له خوا همدغه ګډه وډه سندره په منظمه ، اهنګيزه او سندريزه توګه ويله کيږي، چې د ويلو پر مهال ورته دڅپو يا سېلابونو وزن او انډول هم را پيدا کوي.په پښتو ژبه کې دکوچنيانو دفولکلوريکو سندرو دڅپو شمېر ډېر زيات نه وي، بلکې يوازې محدودې څپې لري، ځکه کوچنيان دومره ساه نه لري، چې اوږدې څپې بدرګه او ووايي.

**۲- د پښتني فولکلور څرنګوالی:**

دلته يو ځل بيا د فولکلور يوې ډېرې عامې اصطلاحي پېژندنې ته ورځو او د هغې په رڼا کې د پښتني فولکلور د څرنګوالي لنډ جاج اخلو.

د فولکلور پېژندنې لاربښود اثر ليکوال د «فولکلور څېړنه» مقالې د ليکوال په حواله د پښتني فولکلور د اصطلاحي پېژندنې له پاره يو نوی وېش په دې ډول وړاندې کړی دی:

« د خلکو ادبيات؛ لکه: سندرې، منظومې کيسې، نکلونه، متلونه، اصطلاحات، ټوکې، ترانې او نور.

دودونه، رواجونه، عنعنات، عقايد او طرز تفکر، ګډ کارونه، اشر، بدرګه، ګوندي، لښکر او نور.

پښتونولي او نرخونه، لکه روغه جوړه، ناغه، ننواتې، تيره، برمته او نور.

د خپلوی د ژوند اداب، د خپلوانو نومونه، د مشرانو درناوی، د کشرانو نازول او نور ورزشونه او لوبې، لکه د ځوانانو او نجونو لوبې، د لويانو لوبې، شګومونه(بختونه)، فالونه، کرکې، کرښې، د خوبونو تعبيرونه او نور.

د ښځو دريځ، کارونه او نور، ودانی، آبدې يا ابنې، عاميانه تاريخ او روايات، شجرې او نور.

اخلی پخلی، د خوړو ډولونه او نور. د ستورو، لمر، سپوږمی، ځمکې، اسمان، کهکشان او نورو موجوداتو په باب نظرېې، د ستورو اغېزې، د لاس کرښې، د تندي کرښې او نور. جامې، ګاڼې(زېورات)، د کور لوښي اونور.

ولسي طب، لکه: د بوټو او نورو درمليزو شيانو په وسيله د ناروغيو درملنه، وينه ايستل، پوستکی اغوستل، هډوکي تړل او نور، کرنه، کرکيله، د څارويو او وښو د روزنې او جوړښت په باب معلومات، د انسان پېژندګلوي او د هغه د پيدايښت په باب افسانې او اسطورې او داسې نور ډېر شيان ټول د پښتني فولکلور موضوعات دي او ددې ټولو تر شا افسانې او اسطورې ولاړې دي.»(1)

د فولکلور په پورتنی عامې اصطلاحي پېژندنه کې ياد شوي او داسې نورو ډېرو مادي او معنوي توکو او پديدو ته په کتنه او پاملرنه موږ د پښتني فولکلور د څرنګوالي او څومره والي جاج په اسانی سره اخيستلای شو او د موضوع د پوره وضاحت له پاره ويلی شو چې فولکلور او په ځانګړي توګه د هغه لويه او مهمه برخه فولکلوري ادبيات د هر ولس، ټولنې او ملت په تاريخ

کې ډېره ارزښتناکه ونډه لري او د هغې له يادونې او ورته د پاملرنې پرته د هغه ولس، خلکو او ملت ملي او ادبي تاريخونه دواړه نيمګړي ګڼل کېږي.

د فولکلور څېړنو په ترڅ کې جوته شوې چې فولکلور معمولاً په هغو ټولنو او اولسونو کې ډېر پياوړی او ځواکمن وي چې د ليک لوست خپرېدنه پکې ډېره نه وي عامه شوې او وګړي يې د سواد له نعمت څخه بې برخې وي.

پښتني ټولنه هم د ځانګړو ټولنيزو، سياسي، اقتصادي، فرهنګي او جغرافيوي عواملو له کبله ددغسې ټولنو، ولسونو او هېوادونو په لومړۍ ليکه کې درېږي، نو ځکه يې په ټولنيز کلتوري اړخ کې د فولکلور ونډه زياته او ډېره ځواکمنه ده.

پښتانه د افغاني ټولنې د يوې سترې او مهمې برخې په توګه په ټوله کې هغوی د فولکلور او په ځانګړې توګه د ولسي يا فولکلوري ادبياتو پانګه د سيمې د ټولو مېشتو قومونو او ولسونو په پرتله بډايه او ځواکمنه ده.

پښتون ولس د پېړيو پېړيو راهيسې خپلې هيلې، ارمانونه، غوښتنې، خوبۍ، غمونه او رنځونه، مينې او کرکې او لنډ دا چې د ټولنيز ژوند ټول کړه وړه په همدې فولکلوري ادبياتو کې منعکس کړي، په هغو کې خوندي شوي او له يو نسل څخه بل نسل ته لېږدېدلي دي.

نو دغسې ددې بحث د پايلې په توګه ويلی شو چې پښتانه په خپل پراخ او پياوړي کلتوري ژوند په چوکاټ کې د ځواکمنو فولکلوري ارزښتونو څخه برخمن دي، خو د کلتور دغه مهمه برخه ډېره خوره وره پرته او ډېره کمه او لږه راټوله شوې، خوندي او له هېرېدنې او ورکېدنې ژغورل شوې او څېړل شوې، خو ډېره زياته برخه يې اوس د ورکېدو او هېرېدو له ګواښ او خطر سره مخامخ ده چې ژغورل راټولول، خوندي کول او څېړل يې ضروري، بلکې لازمي دي، چې هغه پوره پاملرنې ته اړتيا لري.(2)

د پښتني فولکلور د څرنګوالی او څومره والی په اړه په همدې پورته يادونو او څرګندونو بسنه کوو او د څېړنې بلې برخې چې هغه په پښتو ژبه يا پښتني فولکلور کې د ماشومانو ادبيات دي او د پښتون ولس د فولکلوري ادبياتو لويه برخه جوړوي، ورځو او په پښتو ژبه او ادب کې يې په څرنګوالي او څومره والي بحث کوو.

**۳- په پښتو کې د ماشومانو ادبيات**

ماشومان د ټولنې د وګړنيز(افرادي) ځواک د يوې سترې برخې په توګه خپل ځانګړي ادبيات لري، چې پکې د دوی احساسات، عواطف، هيلې، غوښتنې، ارمانونه او پوښتنې په يوه يا بله بڼه څرګندېږي. د ماشومانو ادبياتو په اړه د بحث لړۍ ددغو ادبياتو په پېژندنه سره پيلوو:

**الف - پېژندنه:**

د ماشومانو ادبيات د هغو شعري، نثري ليکنو او ويناوو ټولګه ده، چې په ټولنه کې د لويانو له خوا د ماشومانو د بوختياوو او استفادې له پاره ايجادېږي او پخپله د ماشومانو ترمينځ هم پنځېږي.(3)

په يوه بله پېژندنه کې يې لولو: هغه منظومې او منثورې شفاهي ويناوې او ليکنې دي چې په ماشومانو پورې اړه لري، يا په بله وينا: د هغو نثري ليکنو، ويناوو او منظومو سرودونو(سندرو) مجموعې ته ويل کېږي، چې د ټولنې لويانو له خوا د ماشومانو د ګټې اخيستنې له پاره چمتو کېږي. په دې برخه کې داسې تحليلي څرګندونې هم شته چې د موضوع په لحاظ د کوچنيانو او لويانو په ادبياتو کې توپير نشته، هر هغه څه چې د زده کړې او درس له پروګرام څخه د باندې په هنرمندانه ډول وليکل شي، تنظيم او وويل شي د ماشومانو ادبيات ورته ويل کېږي( 4). نو ددغو څرګندونو او پېژندنو د پايلې په توګه يو عام

تعریف وړاندې کوو او وایو چې ټولې هغه منظومې اومنثورې ویناوې او لیکنې چې د ماشومانو د ذوق او عمر سره برابرې وې معلوماتی پانګه یې غښتلې او قوي کړي ، د ماشومانو ادبیات یې بللی شو.

په پښتني فولکلور کې کومې برخې چې د کوچنیانو په فولکلوري ادب کې راوستل کیږي، په هغه باندې ښاغلی استاد حبیب الله رفیع په خپل ارزښتمند اثر«دخلکو سندرې» کې ښه اوږد علمي بحث کړی دی. د موضوع د اوږد والي د مخنیوي لپاره یې یواځې نوموونه را اخلم:

د میندو سندرې، د وړو سندرې، د کوچنیانو سوال ځواب، کیسی، د وړو مشاعرې، کوچنی نکل، بلندره، د پک غندنه، د کیکړ راوړل، فولکلوریکه غندنه، نکلي لنډۍ، فولکلوریکه ستاینه، د ماشوم کرارول، د شنو سترګو فولکلوریکه غند نه، فولکوري ستاینه، د بیکارۍ او لټۍ غندنه، د ښکلا یا ښایست یادونه او نور. (5)

د غه راز استاد حبیب الله رفیع د ولسي سندرو د ارزښت په لړ کې د هغو سندرو په تعلیمي ارزښت ټینګار کوي چې د کوچنیانو د روزلو لپاره د دوی د راتلونکي ژوند سره اړوند درسونه په کې ورکول کیږي. رفیع صاحب وایي: « د پښتنو اولسي سندرو په اوږده لړۍ کې ډېره زړه کړی د میندو سندرې دي چې د ویدې سندرو په څیر ماشوم (هلکانو او نجونو) ته د دوی له راتلونکي ژوند سره اړوند درسونه په کې ورکول کیږي او د دوی ټولنیز مسؤولیتونه په کې ورښودل کیږي، د همدې لړۍ بله زړه کړی د ماشومانو سندرې دي چې د خپلو میندو له سندرو نه ادبي درس او د ژوند پند اخلي او د چاپېریال او طبیعت ساده ارزښتونه په کې رانغاړي او خپلې لوبې اوساتیرۍ پرې تودوي، تر دې را وروسته یې نیم بیت یو ماشوم او بله مسره یې بل ماشوم وایي چې دا د شعر جوړولو او د هغه په چل پوهیدلو ښه تمرین دی او کیسی یا چیستانونه هم بیا د ذهني آزموینې او د معلوماتو د ارزونې لپاره دي چې د ماشومانو ځیرکي په کې زیاتیږي او زباتیږي . ورپسې لویان هم د ژوند په بیلابیلو وختونو او ځایونو کې د سندرو دا لړۍ پالي او ادبي تجربه د ژوند له تجربو سره تسلسل مومي.» (6)

**ب – په پښتو کې د ماشوم د ادبیاتو وېش او ډلبندي:**

د ادبیاتو د عمومي وېش او ډلبندۍ له مخې د ماشوم ادبیات هم لومړی په نظم او نثر او بیا په دوو سترو برخو وېشل کېږي، چې یوې ته یې شفاهي(ولسي .فولکلوري) او بلې ته یې لیکلي، یا تحریري ادبیات وایي. د ماشومانو له پاره لیکلي ادبیات هغه دي چې نور یې د ماشومانو له پاره لیکي چې له اورېدو، یا لوستو یې پند، خوند او عبرت واخلي، په دې برخه کې په عامه توګه د ماشومانو له پاره لیکل شوې یا پنځول شوې منثورې کیسې، ډرامې، د شعرونو بېلابېل ډولونه(ترانې، منظومې کیسې او نور شعرونه) راځي، چې معلوم لیکوال یا شاعر یې د ځینو ځانګړو ښوونیز - روزنیزو او نورو هدفونو له مخې رامینځته کوي. بل یې شفاهي یا ولسي ادبیات دي، چې دلته په دې لیکنه کې پرې بحث کوو او بېلا بېل ډولونه یې درپېژنو. دا په عام ډول هغه ادبیات دي چې رامینځته کوونکی، پنځوونکی یا ویناوال یې معلوم نه وي، د ټولنې ګډ مال دی، لکه د ماشومانو له پاره ډول ډول فولکلوري سندرې، کیسې، چیستانونه، ټوکې ټکالې، لطیفې او نور چې ماشومان یې پخپل مینځ کې وایي او یایې په ولس کې لویان ماشومانو ته د غوره بوختیا او ساعت تېرۍ په موخه وایي ( 7). دلته په دې لیکنه کې موږ په همدې ډول فولکلوري یا شفاهي ادبیاتو غږېږو، له لیکلو ادبیاتو سره کار نه لرو.

**ج - د ماشوم ادبیاتو هدفونه(موخې)**

د ماشوم د ادبیاتو پنځوونکي ددغه ډول ادبیاتو په رامینځته کولو کې ځانګړې موخې او غرضونه لري، چې هغه په خپلو ایجاد کړو ادبیاتو کې تعقیبوي، دلته یې ځینې په ډېر لنډیز سره رااخلو:

۱) ماشوم ته د ژوند چاپېریال (کور، کلي، کوڅه، سیمه، ښوونځې او نورو...) وروپېژندنه؛

۲) ماشوم ته د ټولنې او په هغې پورې د ځينو اړوندو ارزښتونو پېژندنه؛

۳) له ليک لوست زده کړې او ليکنې سره د ماشوم د مينې او ذوق پيدا کول؛

۴) د راتلونکي ژوند له پاره هغو ته د چمتووالي پوهه، معلومات، تجربه او داسې نور ورکول؛

۵) ماشومانو ته د تفريح او ساعت تېرۍ لارې چارې برابرول؛

۶) د لغوي زېرمې په زياتوالي کې مرسته کول؛

۷) د ماشومانو ترمينځ د ټولنيزو اړيکو پياوړي کول.( 8)

اوس چې د ماشوم په ادبياتو کې په نغښتې موخه او هدف پوه شوه، ددغو ادبياتو د ځينو ځانګړنو پېژندنه هم اړينه ده.

**د - د ماشوما د ادبياتو ځانګړنې:**

د ماشوم د ادبياتو ځانګړنې او خصوصيات په دوو برخو  ويشو :

**لومړۍ - د شکل او بڼې له مخې:**

۱)  د ماشوم د ادبياتو ژبه بايد د ماشومانو له ژبې سره هر اړخيزه هماهنګي او برابري ولري.

۲) د ليک او وينا سبک يې ساده او روان وي.

۳) د ادبي آثارو پايلې، نتيجې او پيغامونه بايد څرګند او روښانه وي.

۴) جملې او عبارتونه يې لنډ او مفاهيم يې له هر ډول پېچلتيا او ګونګتيا نه ژغورلي وي.

**دوهم - د محتوا او مضمون له مخې:**

۱) موضوعات يې بايد د ماشومانو د عمر او سن له اړتياوو او غوښتنو سره سمون ولري.

۲) موضوعات يې بايد په داسې ټولنيزو واقعيتونو ولاړ وي چې ماشومان يې په طبيعي او عيني توګه ذهناً ومنلی شي او په زور او دار پرې تحميل نه کړای شي .

۳) موضوعات يې په ماشومانو کې د انسان دوستۍ، زړه ورتيا، رښتينولۍ، خير ښېګنې او پر ځان د باور روحيه پياوړې کړای شي، له دروا‌غو، بدبينۍ، غرور، پوچې، ستوغې وينا او هر ډول ناوړه اخلاقو څخه يې راوګرځوي.

۴) له ماشوم سره د ځان او جهان په پېژندنه کې مرسته وکړای شي.

۵) د ماشوم د هنر، ښکلا پېژندنې او ښکلا خوښونې ذوق پياوړی کړي.

۶) ماشومان د پوهې او معلوماتو ترلاسه کولو ته لېوال کړي او داسې نور ... ( 9)

**هـ-  په پښتو کې د ماشومانو ولسي يا فولکلوري ادبيات:**

**اول - منظوم ادبيات:**

په دې فولکلوري يا ولسي ادبياتو کې دغه ډولونه ډېر عام دي: د ماشومانو سندرې، د ماشومانو مشاعرې، منظوم اړونه يا چيستانو او ... دلته هر يو په لنډيز سره در پېژنو:

**۱- د ماشومانو سندرې:**

دا سندرې کوم ځانګړی فورم او شکل نه لري، هر ډول چې د ماشومانو ذهن منلي، نو هغسې يې ويلي دي، ځينې بې معنا خبرې او لغوي ترکيبونه هم پکې وي، خو د وزن، آهنګ او قافيه پکې رعايت شوې وي. دغه سندرې د جنسيت له مخې هم

توپير کوي، په دې معنا چې واړه هلکان او نجونې خپلې ببلې ببلې سندرې لري. ځينې د دواړو ترمينځه ګډې سندرې هم وي. دا لاندې ببلګې يې وګورئ:

اکوبکو د نبالکو(سرسيندکو)

غواوې ولاړې د سيکو (په ترپکو)

يو ملوک و يو ننداں

غشي ولې په ميدان

ميدان يې داسې روڼ کړ، لکه ستورى د اسمان( 10)

د اکو، بکو سندره په ځينو پښتني سيمو کې په دې بڼه هم ويل کيږي:

اکو، بکو، دنبالکو،سر سيندکو،غوا مې لاړه په ترپکو.

اکو بکو، دنبالکو، سيبه لاړه په ترپکو، ما ويشته په ډبلی، نه يې سر و، نه لکۍ، پيشو پړنګ.

يا دا ببلګه چې وايي:

شين يې کې، زرغون يې کې

د شنه غوايي لړمون يې کې

د اوسپنې تلبر يې کې

د پک سرې په سر يې کې

زموږ جونه پې پنډې کې

د نورو جونه کونډې کې (11)

يا دا ببلګه چې وايي :

زما يوه خپلى وه

کاپيره دې منى وه

ما نه پټه کړه غازيانو

زه لاړمه تپې ته

تپه کې يوه شادي وه

پخ کړې وې پتيرې

نه يې خوند و ، نه مزه

تق يې راکه په تندې

ګډېدم له شادې

+++

پورې يو کلى و

کتاب يې غوړولى و

لاړمه ماما کره

ماما مې خیرات کړی و
د خره سر یې پخ کړی و
یوه مړی مې وکړه
په دې سرو کولمو مې ټک شو
ټک په مازیګر شو
وختمه غره ته
راپرېوتم ځنګله ته
جونکیو خوشې اچول
الو بالو ، الو بالو
الو بالو ، الو بالو (12)

او دا هم د نجونو له خوا ویل شوې سندره :

بابا مې تلی محکمې ته
رابه شي غرمې ته
ماته به الو راوړي
الو به ورکم غوا ته
غوا به ماته پی راکي
پی به ورکم خدای ته
خدای به ماته ورور راکي
وروره بیدار شه ستا په لونګی جنګ دی
لاس کې دې ترې ترې بادرنګ دی (13)

**۲- د وړو مشاعرې:**

دا د ماشومانو یو ډول مسابقوي او مقابلوي سندرې دي چې خپل ذهنونه د ادبي پانګې د خوندي کولو له پاره پرې روزي. دا سندرې (د وړو مشاعرې) د دوو ماشومانو ترمینځ د شرط په ایښودلو سره یو بل ته ویل کېږي. داسې چې لومړی ماشوم یوه مسره یا لنډ نیم بیتي وواېي، له بل څخه یې دویمه مسره یا نیم بیتي په وزن او قافیه برابر غواړي، که هغه یې ونه وايي مسابقه یا سیالي یې بایللې ده، دا لاندې بېلګې یې وګورئ:

| | |
|---|---|
| ۱- د یو تر کابله | د کابل دروازه بله |
| ۲- د غره په سرنغری | پکې پروت دی زمری |
| ۳- د غره په سر دړه | پرې وخته کیدړه |
| ۴- د غره په سر موری | په کې پرته سپینه وری |

۵- د غره په سر تنور                    ترې را وخوت الانور (14)

**۳- منظومې کيسې (اړونه يا چيستانونه):**

دا هم د ماشومانو د شفاهي ادبياتو يو ډول دی، چې په نظم او نثر دواړو بڼو موجود دی. دا کيسې(اړونه) وزن او اهنګ دواړه لري او ځينې يې قافيې او رديف هم لري، خو د مسريو سپلابونه او هجاوې يې کله په شمېر کې برابرې او کله بيا زياتې او کمې وي. دا د ماشومانو د ساعت تېرۍ او مشغولتيا او بوختيا له پاره رامينځته شوي دي. يو يې وايي او بل نه يې ځواب غواړي. داسې معلومېږي چې دا پخپله ماشومانو نه دي جوړ کړي، بلکې لويانو دوی ته جوړ کړي.

فاضل شريفي وايي: "چيستان د لغز مترادف دی او لغز د پېچلتيا په معنا کارول شوی، د کلام په اصطلاح کې هغه موزوني ده چې په هغې کې د يو ځيز صفات او نښې شرحه کېږي، ترڅو د نښو او صفاتو په وسيله د لوستونکي يا اورېدونکي ذهن د ويونکي اصلي مقصد ومونداى شي. (15)

د کيسې څو بېلګې:

- تور دی کارغه نه دی ، الوزي مرغه نه دی (ګونګټ)
- مرمار په سوړه روان (پرتوګاښ)
- ښکته ځم پورته مې کار دی ، د غره په سر انګار دی (چلم)
- له پاسه راغی سور بلوڅ ، اغوستي يې پنځه پنځوس (پياز)
- زر غشي يې خوړلي ، خو ژوندی دی ، دا لا ځنګه شی دی (شکوڼ)
- نه يې پښې شته نه لاسونه ، يک امان وهي ټوپونه (بال، توپ)
- تور ځنځير په ځمکه ځير (د ميږيانو ليکه)
- وچ کلک د کولمو ډک (کټ)
- لول دی بالول دی سره پوکنۍ په ډکې سور دی (مرچ)
- يوه ونه دولس يې ښاخونه دوه په کې ګلونه (کال)
- څلور يې پښې څلور يې خولې، په شا يې اوښتي دي کولمې(کټ)
- کرده ده نيلي ، نه يې قلف(قفل) شته نه کيلي (هګۍ)
- د اوسپنې کوټه ده ، په سر کې يې شيشه ده ، په منځ کې يې نشه ده (د نسوارو ډبۍ)
- نه ملا دی نه انسان دی خو اذان کوي حيوان دی (چرګ)
- لښته ده زرلښته ده، نه ماتېږي سخته ده. (روژه) (16)

**۴- پوښتنه او ځواب:**

دا هم د ماشومانو د لوبو او ساعت تېرۍ يو ډول سندرې يا قافيه والې خبرې دي، داسې چې يو ماشوم بل ته د يو شي نوم اخلي او ورځخه غوښتنه کوي چې ته ووايه؟ هغه مجبور دی چې د هغه په هم قافيه کلمه يې ځواب کړي. دا د پوښتنې اوځواب لړۍ تر هغه روانه وي چې د دوی خوښه وي، کله يو نوم اخلي او بل هم قافيه کلمه وايي، کله بل نوم اخلي او مقابل لوری هم قافيه کلمه وايي. بېلګې يې دا دي:

لومړی ډول پوښتنه او ځواب :

۱- (پوښتنه) ته ووايه وربشي (ځواب) خبرې دي خوشې
۲- (پوښتنه) ته ووايه غنم (ځواب) خبره دې منم
۳- (پوښتنه) ته ووايه جوار (ځواب) خبره دې په وار
پوښتنه: ته ووايه چلمچي (ځواب) شاته دې واړه واړه بچي
پوښتنه: ته ووايه اوړه (ځواب) شاته دې مېږه

او دا یې هم دوهم ډول پوښتنې او ځوابونه :
پوښتنه: او پورې بادشاه زای (زوی) دې وشي که لور؟
ځواب: زای (زوی) مې وشي .
پوښتنه: خواني(شیریني) دې څه کی (کړ) ؟
ځواب: خواني د کندو په سر نې (دپاسه) دی .
پوښتنه: د کندو په سر نې (دپاسه) نه شته؟
ځواب: پشې (پیشو) به وړې وي .
پوښتنه: پشه څه شوه؟
ځواب: پشه د خره په کته ننوته .
پوښتنه: کته څه شوه؟
ځواب: کته یې په خره واچوله
پوښتنه: خر څه شو؟
ځواب: خر یې لرګیو ته بوت .
پوښتنه: لرګي څه شول؟ (17)

**۵- د میندو سندرې:**

دا د ماشومانو له پاره د میندو له خوا یو ډول پنځول شوي ادبیات دي. دا سندرې میندې خپلو ماشومانو ته په بېلا بېلو وختونو کې وایي. کله یې د اللو په غبر خواږه خوب ته وربولي او کله د لوبولو په خبرو راوستلو او نورو ژوند چارو ته د چمتو کولو له پاره ورته وایي. بېلګې یې دادي:

۱) اللو للو پیشو مه راځه د غرو (ملوک جان) داسې ویده دی لکه ګوډی د رنجو.
۲- نازک جانه ښایسته ښه دې توره ښه وسله په ښایسته نیلی سپره چې نیلی دې تماشې که تور تازیان دې ورسره( 18)

**۶- منظومه ډوله کیسې:**

دا هم د ماشوم د ولسي یا فولکلوري ادبیاتو یو ډول دی چې لویانو ماشومانو ته ویلي دي، خو ویناوال(شاعر) یې نه دی معلوم، معلوم وزن او ګډوډې قافیې لري، خو مفاهیم پوره معنوي تړون نه لري، بېلګه:
پورې غاړه ونه ده

ونې لاندې چرګه ده
چرګې لاندې مار دی
د مار په خوله کې تار دی
دا تار زما په کار دی
نه ځکم د جبې اوبه
راوړئ د چینې اوبه
خوله به مې تناکې شي
کابل به رانه پاتې شي
لاړمه کابل ته
د کابل دروازې پورې وې .... (19)

**دوهم - د ماشومانو منثور ادبيات:**

دا ادبيات هم په دوه ډوله دي، نثري ولسي ادبيات او نثري ليکلي ادبيات.

په منثور ولسي فولکلوري ادبياتو کې ټوکې، لطيفې، نکلونه، منثورې کيسې يا چيستانونه.

**۱- ټوکې(لطيفې):**

دا د ماشومانو د ادبياتو يو ډول دی، معمولاً د نورو له خوا د ماشومانو لپاره رامنځ ته شوي وي، دا لطيفې له کماله ډکې وي ځينې يې يوازې د خندولو او ساعت تېريو له پاره وي، خو ځينې بيا له خندا او خوش طبعۍ پرته له پند، عبرت، نصيحت په بنه ښکلي او اغېزناک پيغامونه لري. دا لاندې بېلګه يې وګورئ:

وايي چې دوه لتان زده کوونکي يو دوکان ته د څه شي اخيستلو له پاره ورغلل، په دوکان کې يې وليدل چې پر يو کاغذ ليکل شوي دي: پلورل شوي شيان بېرته نه اخيستل کېږي، يوه بل ته مخ ورواړوه ويې ويل: کاشکې چې زموږ ښوونکی هم هره ورځ پر تخته وليکي «د تېر شوي درس پوښتنه نه کېږي».( 20)

**۲- نثري کيسې(چيستانونه- اړونه):**

دا هم هماغه ډول چيستانونه دي چې د مخه مو د منظومو اړونو په حيث تشريح کړل يوازينی توپير يې دادی چې دا په نثر دي. بېلګې يې لولو:

۱- زما پنځه ګلونه دي، دوه په لمر دي، درې په سيوري (د پنځه وخته لمونځ).

۲- دا څه شی دی؟(پوښتنه) درې بامه(د شوتل پاڼه).

۳- هغه څه شی دی چې ځي درسره ځي، چې ودرېږې، درسره ودرېږي(سيوری) ( 21)

۴- دا کومه مېوه ده چې پوستکی بخملي دی (شفتالو)

۵- چې د غره نه راولوېږي نه خرابيږي خو چې اوبو ته ولوېږي خرابېږي (کاغذ)

۶- په خېټه يې خوري په خوله يې وباسي(رنده)

۷- ټوله ورځې ګرځي چې د شپې راشي د يوې ټنګې ځای ونيسي (امسا)

۸- ټولو ورځ ګرځي چې د شپې راشي خوله آسمان ته ونيسي (بوټونه)

۹- زما درې خرې چې يوه نه وي دوه څر نه کوي (نغری)

۱۰- خپله اوبه دی او دښمن يې هم اوبه دی (يخ ، کنګل) (22)

**۳- نکلونه:**

دا يو ډول کيسې دي چې په ځانګړې ډول د ماشومانو له پاره جوړې شوې او هغوی ته د بوخت ساتلو له پاره د لوبانو له خوا ويل کېږي. په دې ډول کيسو نااشنا کارونه کېږي، د حال په ژبه د حيواناتو او نباتاتو خبرې هم په کې کوي او په کيسه کې خپل رول او نقش ترسره کوي. دا هم پر ساعت تېرې سربېره د پند او خوند ډکې خبرې لري او د ماشومانو د ذهني ودې له پاره ډېرې ارزښتمنې دي. دا چې دا کيسې اوږدې دي دلته يې پوره مثال نه شو راوړلی. خو په پښتو ژبه کې يې ډېرې بېلګې شته ، چې د مثال په توګه د ځينو نومونه اخلو، لکه: چرګوری، ګيدړ پاچا، دحلوا خوړل، څلور ټګان، سويه او دهقان حماسي نکلونه، جادوي نکلونه او نور...(23)

دغسې د ماشومانو ولسي ادبياتو د ماشومانو په ذهني روزنه او له هغوی سره د ځان، جهان، خپلې ټولنې او چاپېريال په پېژندنه کې مرسته کوي.

**د بحث پايله:**

که د پښتني فولکلور او ماشومانو ادبياتو په اړه د بحثونو دا خوره وره ګمنه راټوله کړو، نو د پايلې په توګه ويلی شو چې د فولکلور اساسي مقوله لرغوني عوامي عنعنه ده چې ددغو درې واړو مقولو له ارګانيک ترکيب څخه يې دغه پېژندنه په لاس راوړلی شو: د عوامو خلکو هغو عنعنو ته ويل کېږي چې له لرغونو زمانو څخه راپاتې شوې له متداولو پوهنو، عقايدو او چلند بېلګو سره يو څه توپير ولري يا د فولکلور له ترکيبي نوم څخه د خلکو زده کړه يا ولسي پوهه معنا راوځي. دغه پديدې د کلتور د يوې مهمې برخې په توګه له پوره ارزښت او اهميت برخمنې دي ، پښتانه د افغاني ټولنې د يوې پراخې او مهمې برخې په توګه په خپل کلتور کې بډايه فولکلور لري، چې ډېره لږه برخه يې راټوله، خوندي شوې او څېړل شوې، زياته يې په ټولنه کې شته چې له هېرېدنې او ورکېدنې څخه ژغورنې ته اړتيا لري. پښتانه په خپل کلتور کې پراخه ولسي ادبيات لري چې نورې ګاونډی ژبې ورسره سيالي نه شي کولی، د ماشومانو ادبيات ددغه ولسي يا فولکلوري ادبياتو يوه مهمه او د پوره پاملرنې وړ برخه ده. دغه ادبيات خپل ځانګړی وېش او ډلبندي لري چې لومړی په نظم او نثر بېلېږي او بيا په شفاهي او تحريري د ماشوم ادبياتو باندې بېلېږي چې موږ دلته د ماشومانو فولکلوري ادبيات لنډ دروپېژندل چې هغه خپلې ځانګړنې لري، هغه ځانګړنې مو هم وښودلې او ددغو شفاهي ادبياتو بېلابېل ډولونه چې په منظومو کې د ماشومانو سندرې، د ورو مشاعرې، پوښتنه او ځواب، د مېندو سندرې او منظوم ډوله کيسې دي. او په نثري برخه کې لطيفې، نکلونه، منثور چيستانونه دي، هغه مو له بېلګو سره دروپېژندل.

**حوالې:**

---

[1] روهي، محمد صديق، فولکلور پېژندنه، د افغانستان د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبیاتو مرکز، کابل، ۱۳۶۵لمریز کال ، ۲۴ مخ .

[2] هاشمي، سیدمحي الدين، ادبپوهنه، دوهم چاپ(له نویو زیاتونو سره) مېهن خپرندويه ټولنه، پېښور، ۱۳۹۴لمریز کال ، ۲۱۴مخ.

[3] هاشمي، سیدمحي الدين، ادبپوهنه، دوهم چاپ(له نویو زیاتونو سره) مېهن خپرندويه ټولنه، پېښور، ۱۳۹۴لمریز کال ، ۱۶۲مخ.

[4] نیازی، رفیع الله، په پښتو ادب کې د ماشومانو ادبیات، مصور خپرندوی بنسټ کابل، ۱۳۸۹لمریز کال، ۱۵- ۱۶مخونه.

[5] رفیع، حبیب الله: د خلکو سندرې، د علومو اکاډمي، پښتو ټولنه، ۱۳۴۹ ل کال، ۴ مخ.

[6] ( http://www.dw.de/د-مور-او-ماشوم-سندري/-3697012a )

[7] هاشمي، سیدمحي الدين، ادبپوهنه، دوهم چاپ(له نویو زیاتونو سره) مېهن خپرندويه ټولنه، پېښور، ۱۳۹۴لمریز کال ، ۲۶۶مخ.

[8] هاشمي، سیدمحي الدين، ادبپوهنه، دوهم چاپ(له نویو زیاتونو سره) مېهن خپرندويه ټولنه، پېښور، ۱۳۹۴لمریز کال ، ۲۶۳مخ.

[9] نیازی، رفیع الله، په پښتو ادب کې د ماشومانو ادبیات، مصور خپرندوی بنسټ کابل، ۱۳۸۹لمریز کال ، ۶۳مخ.

[10] رفیع، حبیب الله، زرینې ځانګې، د افغانستان علومو اکاډمي، د ژبو او ادبیاتو مرکز، کابل، ۱۳۶۰لمریز کال، ۱۹مخ.

[11] پتنګ، عبدالکریم: ګړنی ادب، د عرفان مجلې خپرونه، ۱۳۵۷ ل کال، ۲۴ مخ.

[12] نیازی، رفیع الله . په پښتو ادب کې د ماشومانو ادبیات،۶۷ مخ

[13] نیازی، رفیع الله . په پښتو ادب کې د ماشومانو ادبیات، ۶۷ مخ

[14] نیازی، رفیع الله . په پښتو ادب کې د ماشومانو ادبیات، ۷۸مخ.

[15] شریفي، محمدفاضل . ادبیات کودک در افغانستان: د افغانستان د علومو اکاډمي د نشراتو ریاست، شعیب مطبعه، ۱۳۸۸ لمریز کال، ۸۱ مخ

[16] شکیب ، عبدالظاهر ، د پښتو ادبي فنونو کره کتنه ، د افانستان د علومو اکاډمی ، علمي څېړنیزه پروژه ، ۱۳۹۹ ل کال ، ناچاپ ، ۲۹۷- ۲۹۸ مخونه .

[17] نیازی، رفیع الله . په پښتو ادب کې د ماشومانو ادبیات، -۸۴ ۸۵ مخونه

[18] رفیع، حبیب الله. زرینې ځانګې، د افغانستان علومو اکاډمي، د ژبو او ادبیاتو مرکز، کابل، ۱۳۶۰لمریز کال ، ۱۷- ۱۸مخونه.

[19] نیازی، رفیع الله. په پښتو ادب کې د ماشومانو ادبیات، ۹۶ مخ .

[20] هاشمي ، سید محی الدین . ادبپوهنه ، ۲۷۰مخ.

[21] نیازی، رفیع الله. په پښتو ادب کې د ماشومانو ادبیات، مصور خپرندوی بنسټ کابل، ۱۳۸۹لمریز کال ، ۱۲۷مخ.

[22] خپل یاداشتونه .

[23] نیازی، رفیع الله. په پښتو ادب کې د ماشومانو ادبیات، مصور خپرندوی بنسټ کابل، ۱۳۸۹لمریز کال ، ۱۲۸ - ۱۳۶مخونه.